# د فر ښتو

## د نیکو اِجتماعاتو سره محبت

09-April-2026



(For Islamic Brothers)

هفته وار د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

پهٔ 9 اپریل، کال 2026ء (بمطابق: 20 شوال شریف، کال 1447ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د فرښتو د نیکو اِجتماعاتو سره محبت

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- دِیني اِجتماع ته فرښتے راځي
- د ژوند د ټولو اهم هدف
- د یو ژړا د ټولو پهٔ کار راغله
- د دِیني اِجتماع دِیني او دُنیائي فائدې

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

*For Feedback*:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله — وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله — وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د صحابئ رسول حضرت اَبُو سعيد خُدري رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روايت دے، فرمائي: کوم خلق چې په يو مجلس کښې کښيني خو په رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې درود شريف وه نۀ لولي، که هغوئي جَنَّت ته داخِل هم شي، بيا به هم هُغه مجلس د هغوئي د پاره د ارمان سبب وي-[1]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په دې حديث کښې د مَجلس لفظ اِستعمال شوے دے، د دې معنیٰ ده: د کيناستو ځائے- مجلس صرف اِجتماع يا لوئي محفل ته نۀ وائي، مونږ عام طور د خپلو دوستانو سره کښينو، د کور والؤ سره کښينو، د عزيزانو خپلوانو سره کښينو، غرض کله چې درې څلور کسان راجمع شي او کښيني نو هغوئي له پکار دي چې که زيات نۀ وي نو کم از کم يو ځل په خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې درود ولولي، که وه يـې نۀ لوستو نو اګر که ګناه نۀ ده ، البته! هم دا د درودِ پاک نه خالي ناسته به د ارمان سبب خو جوړيږي-

1...سنن کبریٰ للنسائی، جلد:9، صفحه:157، حديث:10171۔

# پهٔ اِجتماع کښې د درودِ پاک لوستلو فضيلت

هسې خو دُرُود شريف مونږ له پهٔ تنهايۍ کښې هم لوستل پکار دي، ډير لوستل پکار دي، البته پهٔ ګڼې سره د درودِ پاک لوستلو ځانله فضيلتونه دي- شيخ شعب حَرِيُفِيُش رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه ليکلي دي: پهٔ کومه اِجتماع کښې چې درودِ پاک لوستلے کيږي، د هلته نه يوه ښکلې خوشبوئي پيدا کيږي، د دې پورې چې هغه د اسمانه پورې رسيږي، فرښتے وائي: دا د هغه اِجتماع خوشبوئي ده پهٔ کومه کښې چې پهٔ مُحَمَّد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درودِ پاک لوستلے شوے دے-(1)

سُبۡحٰنَ الله! د درودِ پاک د برکتونو نه قربان شم--!! ورسره ورسره د فرښتو د عشقِ رسول نه هم پهٔ زر واره قربان شم--!! خومره کمالي عشق دے، اِنسان چې کوم درودِ پاک ولوستو، د هغه درود شريف نه کوم قِسمه خوشبوئي ځي، فرښتے هغه خوشبوئي هم پيژني- د دې نه دا هم معلومه شوه چې د ذِکر و اذکار، نعت، بيان وغيره ټولو ښه کلماتو هم خوشبوئي وي خو قربان شم! د درودِ پاک خوشبوئي د ټولو نه جدا، ممتاز او د بدل شان والا وي- **الله** پاک دې مونږ ته پهٔ تنهايۍ کښې هم او پهٔ اِجتماعي توګه هم د ښه ډير درود شريف وئيلو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم -

جس کی خوشبو بہارِ خُلد بسائے
ہے وہ محبوبِ گل عذار دُرود

سر سے پا تک کروڑ بار سلام
اور سراپا پہ بے شمار دُرود

شہر یارِ رُسُل کی نذر کروں
سب دُرودوں کی تاجدار دُرود (2)

راځئ چې پهٔ اِجتماعي توګه يو ځل پهٔ شريکه درود شريف ولولو:

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1 ...الروض الفائق، المجلس الرابع والخمسون...الخ، صفحه:319۔

2 ...ذوقِ نعت، صفحه:124123 ملتقطاً۔

# د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے۔ [1]

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ❀ د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښېنم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** کوم کار چې مونږ اوس کوو، یعنې مونږ ټول پهٔ یوه دِیني اِجتماع کښې حاضر یو، د قرآنِ پاک د تِلاوت نه دا اِجتماع شروع شوه، بیا مونږ نعت شریف واوریدو، اوس د بیان وخت دے، د دې نه پس به مونږ دعاګانې او درودِ پاک لولو، ذِکر به کیږي، که **اللّٰه** پاک وغوښتل نو د ژړا نه ډکه دعا به هم کیږي، د **اللّٰه** پاک د عبادت کولو، د نیکو د پاره، د عِلم د زده کولو او ښودلو د پاره، د ذِکر و اذکار کولو د پاره چې د راجمع کیدو دا کوم انداز دے، دا د صدو نه راروان دے۔ نن به مونږ د دې نیک کار د فضیلتونو د اوریدو سعادت حاصلوو۔

اَلْحَمْدُلِلّٰه! خوش قِسمته دے هٔغه کس څوک چې د هر زیارت پهٔ ورځ پهٔ جوش، شوق او جذبې سره پهٔ هفته واره د سُنَّتو نه پهٔ ډکه اِجتماع کښې شرکت کوي، که د دوئي راتلل، پهٔ اِجتماع کښې کړې نیکۍ د **اللّٰه** پاک پهٔ رحمت سره قبولې شي او مونږ امید لرو او ساتل هم پکار دي ولې چې هغه رحمان دے، زمونږ دا مختصر کوششونه به ضرور قبلوي، که چرې قبول شي نو کوم کوم فضیلتونه زمونږ نصیب کیدے شي، راځئ چې

---

[1] ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

واورو د پاره د دې چې زمونږ ذِهن جوړ شي او مونږ پۀ اِستقامت سره دا نیک کارونه کوو- د ټولو نه وړومبې پۀ حديثِ پاک کښې بيان کړے شوې يوه ښکلې واقعه واورئ:

## دِيني اِجتماع ته فرښتے راځي

صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُما فرمائي: يوه ورځ صحابئ رسول حضرت عبد الله بن رَوَاحه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بيان کولو، صحابۀ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم اوريدلو، پۀ دې کښې رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو-

اَللّٰهُ اَکْبَر! د دې کمالي دِيني اِجتماع به څومره ښکلے شان وو---!! وړومبے خو اِجتماع د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم وه، بيا د نبيانو اِمام صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم تشريف راوړلو- سُبْحٰنَ الله!

چہرے پہ خُوشی چھاجاتی ہے،آنکھوں میں سُرُور آجاتا ہے
محفل میں تمہارے آنے سے ہر چیز پہ نُور آجاتا ہے

حضرت عبد الله بن رَوَاحه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ چې کله نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وليدلو نو بيان يې ودرولو او خاموشه شو- محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: عبد الله! بيان جاري ساته---!! عرض يې اوکړو: يَا رَسُوْلَ اللهِ ! اَنْتَ اَحَقُّ مِنِّي يعني يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! هم تاسو حقدار يئ چې بيان اوکړئ (ستاسو پۀ موجودګۍ کښې بيان کوونکے زۀ څوک يم---!!)- رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: تاسو خو هغه ډله يئ، د کومې سره چې د خپل ځان مانوس کولو(عادت ساتلو) ما ته حکم راکړے شوے دے- بيا نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې آيت تِلاوت اوکړو:

| | |
|---|---|
| وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ<br>(پاره:15، سورۀ کهف:28) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او خپل ځان هغه خلقو سره عادت ساته کوم چې سحر او ماښام خپل رَبّ يادوي- |

د دې نه پس رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: په زمکې والؤ کښې چې کله هم یوه ډله د ذِکرُ الله محفل جوړوي (یعنې د دِینې اِجتماع بندوبست) کوي، د هغوئې سره هم په هٔغه همره شمیره کښې فرښتې هم کښیني، که ستاسو ډله سُبْحٰنَ الله وائي نو فرښتې هم سُبْحٰنَ الله وائي، که تاسو اَلْحَمْدُلِلّٰه وایئ نو فرښتې هم اَلْحَمْدُلِلّٰه وائي او که تاسو اَللهُ اَکْبَر وایئ نو فرښتې هم اَللهُ اَکْبَر وائي- که هغوئې د بخښنې دعاګانې کوي نو فرښتې په هغې باندې آمین وائي، بیا د اِجتماع د ختمیدو نه پس هٔغه فرښتې د خپل رَبّ دربار ته حاضرېږي حالانکې الله پاک د هغوئې نه زیات خبر دے- بیا هم (د اِجتماع د جوړوونکو د شان د اِظهار د پاره) الله پاک فرمائي: اے فرښتو! د چرته نه راغلئ؟ فرښتې عرض کوي: اے کریم مالکه! په زمکه باندې ستا بندګانو ستا عبادت کولو، مونږ هم د هغوئې سره په شریکه عبادت اوکړو، هغوئې ستا ذِکر کولو، مونږ هم د هغوئې سره شریک شو او ستا ذِکر مو اوکړو، هغوئې ستا حمد اوکړو، ستا پاکي یې بیان کړه، ستا لوئي یې بیان کړه، اے مالکه! ستا نه یې د بخښنې دعاګانې کولې- په دې باندې الله پاک فرمائي: اے فرښتو! ګواه شئ---!! ما دوئې وبخښل- فرښتې عرض کوي: مولیٰ---!! په هغوئې کښې فلانکے کَس ډیر بدکار دے- الله پاک فرمائي: هُمُ الْقَوْمُ لَا يَشْقٰى بِهِمْ جَلِيْسُهُمْ هغه (یعنې د ذِکرُ الله د پاره دِینې اِجتماع جوړوونکي ) داسې قوم دے د کومو سره چې کیناستونکے هم بد بخته نهٔ پاتې کیږي-[1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اندازه ولګوئ چې دِیني اِجتماعات څومره برکتي دي---!! څوک چې په دې اِجتماعاتو کښې کښیني، دوئې یواځې نهٔ وي، فرښتې هم د دوئې سره کښیني، دوئې چې د الله پاک حمد کوي نو فرښتې هم د دوئې سره په شریکه حمد کوي، اِجتماع ته راتلونکي چې د الله پاک ذِکر کوي نو فرښتې هم د دوئې سره ذکر

---

[1]...حلیة الاولیا، جلد:5، صفحه:135، رقم:6603۔

کوي او قربان شم! کله چې اِجتماع ته راتلونکي د دُعا د پاره لاسونه پورته کوي، پهٔ ژړا ژړا د خپلو ګناهونو معافي غواړي، د **الله** پاک د رحمت نه اميد ساتي، د بخښنې طلبګار جوړيږي نو فرښتے د هغوئي پهٔ دعاګانو باندې آمين وائي-

تاسو اندازه ولګوئ چې پهٔ کومه دعا باندې فرښتے آمين وائي، د هغه دُعا شان به څهٔ وي- پهٔ دې حديثِ پاک کښې ووئيلے شوي چې کله دعا اوکړے شي، پهٔ اِجتماع کښې بخښنه وغوښتلے شي، فرښتے پرې آمين وائي او **الله** پاک فرمائي: **اے فرښتو! ګواه شئ چې ما دوئي بخښلي دي-**

آج کے اس سنّتوں کے اجتماعِ پاک میں
جو بھی آیا بخش دے اس کو مرے پروردگار

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سيرت او د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم د سيرت چې دا کومه واقعه مونږه واوريدله، پهٔ دې کښې زمونږ د پاره د زدکړې ډير خيزونه ميلاؤيږي، درې خبرې عرض کووم:

## (1): د اِجتماع جوړوونکو سره محبت کوئ!

د دې واقعې نه مونږ ته معلومه شوه چې کوم خلق دِيني اِجتماعات جوړوي، وخت پهٔ وخت د **الله** پاک د ذِکر د پاره، د عِلمِ دِين د زده کولو د پاره، د نيکو کولو د پاره پهٔ شريکه کښيني، پهٔ داسې خلقو پورې زړهٔ تړل، د هغوئي سره محبت کول، د هغوئي سره خپل ځان عادت کول هم د ثواب کار دے- وګورئ چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دِيني اِجتماع جوړوونکو پهٔ باره کښې دا آيت مبارک تِلاوت کړو:

وَ اصۡبِرۡ نَفۡسَكَ مَعَ الَّذِيۡنَ يَدۡعُوۡنَ رَبَّهُمۡ بِالۡغَدٰوةِ وَ الۡعَشِيِّ

(پارہ:15، سورۂ کہف:28)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او خپل ځان هغه خلقو سره عادت ساته کوم چې سحر او مابنام خپل رَبّ يادوي-

رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې په کومه موقع باندې د دې آيت مبارک تِلاوت وفرمائيلو، د هغې نه معلومه شوه چې د دِيني اِجتماع جوړوونکي هم د دې آيت لاندې راځي او فرمائيلے کيږي چې څوک را يوځائے کيږي او کښيني او د **اللّٰه** پاک په ذِکر کښې مصروف اوسي، ځان د هغوئي سره عادت کړئ--!!

## د عادت کولو معنیٰ

د عادت کولو مطلب دے: زړۀ لګول، عادت جوړول، لکه څنګه چې دلته ماحول جوړ شوے دے، الله دې کړي چې دا ماحول بدل شي، خلق د موبائل سره عادت شوي دي، چې يو ځل يې ونيسي نو پريښودو ته يې زړۀ نۀ کيږي، ګينټې تيرې شي، احساس ورسره هم نۀ وي- دې ته عادت کيدل وئيلے شي-

معلومه شوه چې څوک نيک اِجتماعات جوړوونکي دي، د ذِکر و اذکار محفلونه جوړوونکي دي، په دې نيک کار کښې د ګناهونو نه ډکې خبرې نۀ شاملوي، خالص د **اللّٰه** پاک عبادت او ذِکر و اذکار کوي، عِلمِ دِين زده کوي او نورو ته يې ښائي، د هغوئي سره دې زړۀ داسې ولګولے شي چې د هغوئي هُم عادت جوړ شي، چې زړۀ چرې هم د هغوئي نه نۀ جدا کيږي---!! بس چې هم اِجتماعاتو ته ځي نو سکون ورته ميلاؤيږي، د دې نه علاوه ورته قرار نۀ راځي-

دَرْد اپنا دے اِس قدر یارَبّ!
ایسا مجھ کو گُما دے اُلفت میں
نہ پڑے چین عمر بھر یارَبّ!
نہ رہے اپنی کچھ خبر یارَبّ! (1)

## (2): د فرښتو د نيک اِجتماعاتو سره محبت

په حديثِ پاک کښې د بيان شوې واقعې نه دويمه خبره دا د زدکړې د پاره ميلاؤ شوه

1 ...قبالۀ بخشش، صفحه:103102 ملتقطاً۔

چې نُوراني مخلوق يعني د اللّٰه پاک فرښتے هم د نيک اِجتماعاتو سره ډير محبت کوي- علامه نَجمُ الدِّين غَزِّي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه د لسمې صدی هجری بزرګ دے، هغوئي د فرښتو په کارونو او عادتونو باندې ډيرې تفصيلي خبرې کړې دي، هغوئي ليکلي دي: مَحَبَّةُ مَجَالِسِ الذِّكْرِ، وَاِقْبَالُهُمْ عَلَيْهَا، وَحَنِيْنُهُمْ اِلَيْهَا، وَحَفُّهُمْ بِهَا، وَمَسَاعِدَتُهُمْ لِاَهْلِهَا فِي الذِّكْرِ، وَتَكْثِيْرُ سَوَادِهِمْ يعني ❀ د ذِکر د محفلونو (نيکو اِجتماعاتو) سره محبت کول ❀ په دغه اِجتماعاتو کښې شرکت کول ❀ د دې اِجتماعاتو ډير شوق لرل ❀ په هغې کښې راجمع کيدل ❀ په دې اِجتماعاتو کښې د شرکت کوونکو مدد کول او ❀ د هغوئي شميره زياتول د فرښتو د عادتونو حصه ده-(1)

سُبْحٰنَ الله! صرف په نيک اِجتماعاتو کښې د شرکت خبره نۀ ده، فرښتے څۀ څۀ کوي: (1): د نيک اِجتماعاتو سره محبت کوي (2): په دغه اِجتماعاتو کښې شرکت کوي (3): چې يوه اِجتماع ختمه شي نو بله اِجتماع به کله وي، کله به هغه ساعتونه راځي چې بيا په اِجتماع کښې شرکت کول نصيب شي، فرښتے د دې هم ډير زيات شوق لري (4): څوک چې په دې اِجتماعاتو کښې شرکت کوي، فرښتے د هغوئي مدد کوي (5): او د هغوئي د شميرې زياتولو د پاره په اِجتماعاتو کښې شامليږي، د هغوئي سره کښيني، د هغوئي سره په شريکه تِلاوت او نعتونه او بيانونه اوري، د هغوئي سره په شريکه ذِکر و اذکار کوي او د هغوئي په دعاګانو باندې آمين وائي-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د نيک اِجتماعاتو د دې شانونو نه قربان شم--!! د فرښتو د دعاګانو اخستو، د فرښتو په صحبت کښې د کيناستو د دې نه نوره اسانه طريقه څۀ کيدے شي--؟ بيا دا غور هم اوکړئ چې کله يوه اِجتماع ختمه شي نو فرښتے په راتلونکي اِجتماع کښې د شرکت کولو ډير شوق لري- د دې نه معلومه شوه چې مونږ ته

---

[1]... حُسْنُ التَّنَبُّهِ، جلد:1، صفحه:227۔

د نیک اِجتماعاتو پهٔ ډیر انتظار کښې اوسیدل هم پکار دي، چې دا اِجتماع ختمه شي، نو بیا به کورونو ته لاړ شو، چې کورونو ته لاړ شو نو بیا هم زړهٔ پهٔ اِجتماع کښې وي، جُمعه راغله، خالي راغلو، اتوار راغلو، زړهٔ خوشحالیږي، لړزیږي چې کله به بیا زیارت راځي، بیا به کله پهٔ هفته واره د سُنَّتو نه پهٔ ډکه اِجتماع کښې د شرکت کولو موقع نصیب کیږي---!! کاش چې زمونږ هم دا نعمت، دا ښهٔ او د نیکو نه ډک درد نصیب شي۔

ذِکرِ حضورِ پاک ہے میرے لیے غذائے رُوح
قلب کا چین اسی سے ہے کہیے اسے دَوائے رُوح

## راشئ---!! ستاسو مطلوب دلته دے

پهٔ **بُخاري شریف** او **مُسلِم شریف** کښې حدیثِ پاک دے، **رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمائیلي دي**: د **الله** پاک ځینې فرښتے دي کومې چې پهٔ زمکه باندې ګرځي، دوئي کوڅه پهٔ کوڅه ګرځي، د ذِکر والؤ پهٔ لټون کښې وي- چرته چې خلق راجمع شوي پهٔ ذِکرُ الله کښې مصروف ويني نو (دا فرښتے صرف پخپله نهٔ بلکې) خپلو نورو ملګرو فرښتو ته (چې د ذِکر په مجلسونو کښې شاملیدل د کومو ډیوټي وي هغوئي ته) اواز کوي: هَلُمُّوۡا اِلٰی حَاجَتِکُمۡ راشئ---!! ستاسو مطلوب دلته دے-(1)

## نور هم د ځان سره راولئ!

سُبۡحٰنَ الله! د روایت باقي پاتې حصه هم عرض کووم، وړومبے د دې خبرې نه لږ خوند واخلئ! فرښتے نورو فرښتو ته اواز کوي، معلومه شوه چې نیک اِجتماعاتو ته یواځې راتلل د فرښتو طریقه نهٔ ده، دوئي خپلو ملګرو ته اواز کوي، هغوئي د ځان سره راولي- مونږ له هم پکار دي چې مونږ یواځې نهٔ ځو، د فرښتو پهٔ لاره ځو او نور هم د

[1] ... بخاری، کتاب الدعوات، باب فضل ذکر اللّٰہ، صفحہ:1578، حدیث:6408۔

ځان سره بوځو-

## د ژوند د ټولو نه اهم هدف

دویمه خبره: فرښتے یو بل ته اواز کوي: هَلُمُّوۡا اِلٰى حَاجَتِكُمۡ راشئ---!! ستاسو مطلوب دلته دے- معلومه شوه چې د دې فرښتو مطلب، مقصد، خوښه، خواهش صرف هم یو وي چې چرته یوه نیکه اِجتماع میلاؤ شي، مونږ پهٔ هغې کښې شرکت اوکړو، دې مقصد د پاره فرښتے پهٔ کوڅو کښې ګرځي، باقاعده د روایت الفاظ دي: يَطُوۡفُوۡنَ فِى الطُّرُقِ فرښتے (د نیک اِجتماعاتو پهٔ لټون کښې) کوڅه پهٔ کوڅه ګرځي-

د دې نه معلومه شوه چې پهٔ نیک اِجتماعاتو کښې د شرکت کولو د پاره نا قلاره اوسیدل پکار دي، د ځینو خلقو ذهن وي چې څومره وخت پهٔ اِجتماع کښې شرکت کووم، د هغې نه بهتره ده چې هُغه همره وخت نفلونه اوکړم، هُغه همره وخت تِلاوت اوکړم، دِیني مطالعه اوکړم- بے شکه نفل کول هم د ثواب کار دے، تِلاوت هم ډیره د فضیلت والا نیکي ده، دِیني مطالعه هم څهٔ جواب نهٔ لري، البته! پهٔ نیک اِجتماعاتو کښې چې د شرکت کوم فضیلت دے، د هغې څهٔ بیل قِسمه شان دے، تاسو غور اوکړئ چې د **الله** پاک فرښتے دي، نُوراني مخلوق دے، د ګناهونو نه بالکل پاکې دي، د دې باوجود دې فرښتو خپل مقصد دا جوړ کړے دے چې مونږ ته هم پهٔ نیکو اِجتماعاتو کښې شرکت کول دي، دې مقصد د پاره کوڅه پهٔ کوڅه ګرځي- معلومه شوه چې پهٔ نیک اِجتماعاتو مثلاً پهٔ هفته واره د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې شرکت زمونږ پهٔ ***Top of the list*** هدفونو کښې کیدل پکار دي-

## فرښتے اِجتماع راګیروي

اوس د روایت باقې حصه واورئ! فرښتے کومې چې کوڅه پهٔ کوڅه ګرځیدلې، بیا

هغوئي ته نيکه اِجتماع ميلاؤ شوه، بيا هغوئي څۀ کوي: د **مسلم شريف** روايت دے: **خوږ محبوب** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمائيلي دي**: فرښتے د هُغه ذِکر پۀ محفل کښې کښيني او خپلې وزرې خوروي او ټوله اِجتماع پرې پټوي (او د وزرو خورولو انداز يې څنګه وي) يوه فرښته، د بلې فرښتے د پاسه وزرې خوروي،پۀ داسې کولو کولو د هُغه اِجتماع والا ځائے نه د اسمانِ دُنيا پورې د يوې د پاسه بله فرښته وزرې خوروي، داسې د زمکې نه د اسمان پورې ټول ځائے د فرښتو نه ډک شي- بيا چې کله اِجتماع ختمه شي نو فرښتے د **الله** پاک پۀ دربار کښې حاضرېږي، **الله** پاک فرمائي: اے فرښتو! ما هُغه محفل والا وبخښل، څۀ چې هغوئي وغوښتل، ما ورعطا کړل، د کوم څيز نه چې هغوئي پناه وغوښته، ما پناه ورکړه-[1]

د **بُخاري شريف** الفاظ دي: فرښتے عرض کوي: مولیٰ! هلته يو کَس وو، هغه پۀ اِجتماع کښې شريک نۀ وو، هغه خو د خپل څۀ حاجت پۀ وجه هلته راغلے وو (يعني هغه پۀ اِجتماع کښې پۀ شرکت کولو پۀ ذِکر او فِکر کښې مصروف نۀ وو، د هغه څۀ کار وو، د کوم پۀ وجه چې هغه د اِجتماع ځائے ته راغلے وو)- **الله** پاک فرمائي: هُمُ الْقَوْمُ لَا يَشْقٰى بِهِمْ جَلِيْسُهُمْ يعني اے فرښتو! دا د ذِکر پۀ محفل کښې شرکت کوونکي داسې د شان والا دي چې د هغوئي سره کيناستونکے هم محرومه نۀ پاتې کيږي-[2]

## (3): پۀ خوا کښې کيناستونکے هم محرومه نۀ پاتې کيږي

سُبْحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** غور اوکړئ چې پۀ نيکو اِجتماعاتو کښې شرکت کوونکي څومره عظمت لري، د **الله** پاک پۀ دربار کښې د هغوئي مقام څومره اوچت دے چې څوک د هغوئي پۀ خوا تيرېږي، د خپل څۀ حاجت د پاره د هغوئي خوا له راشي، د

---

1... مسلم، کتاب الذکر و الدعاء...الخ، باب فضل مجالس الذکر، صفحه:1037، حديث:2689ملتقطاً۔

2... بخاری، کتاب الدعوات، باب فضل ذکر الله، صفحه:1578، حديث:6408۔

هغوئي پۀ برکت هغه هم بخښلے کيږي- خواجه غُلام فريد رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکلي دي:

اُٹھ فَرِیْدَا سُتِّیَا تَے مِیْلَا وِیکَھن جَا

جے کوئی مِل جَاۓ بَخْشِیَا، تَے تُو وِی بَخْشِیَا جَا

مفهوم: خواجه غُلام فريد رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نيک بزرګ دے، هغوئي غافله نۀ بلکې د غافلانو رابيدارونکے دے خو د عاجزئ په توګه وائي: اے پۀ غفلت کښې پريوتي فريده! راپاڅه--!! بهر لاړ شه، وګوره! که څوک بخښلے ميلاؤ شي نو د هغۀ د صحبت پۀ برکت به ستا هم بخښنه وشي-

## د يو ژړا د تولو پۀ کار راغله

حضرت سليمان بن منصور رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نيک بزرګ تير شوے دے، هغوئي فرمائي: ما خپل وفات شوے والد صاحب پۀ خوب کښې وليدو او پوښتنه مې ترينه اوکړه: **اللّٰه** پاک ستاسو سره څۀ معامله اوکړه؟ والد صاحب راته ووئيل: **اللّٰه** پاک ما ته خپل قُرب راعطا کړو او وه يـې فرمائيل: اے ګنهګاره بوډا! آيا تا ته معلومه ده چې تۀ ما ولې وبخښلې؟ ما عرض اوکړو: مولیٰ! ما ته نۀ ده معلومه- وه يـې فرمائيل: يوه ورځ پۀ يوه اِجتماع کښې (پۀ بيان کولو) تا خلق ژړولي وو، پۀ هغوئي کښې زما يو داسې بنده هم ژړلي وو کوم چې زما د ويرې نه چرې هم نۀ وو ژړلي، د هٰغه يو د ژړا پۀ وجه ما هغه وبخښلو او د هغۀ پۀ برکت مې اِجتماع ته راغلي ټول وبخښل- (آنسوؤں کا دریا، ص:43)

| يَاالله! يَارَحْمٰنُ! | يَاحَنَّانُ! يَامَنَّانُ! |
|---|---|
| بخش دے بخشے ہوؤں کا صدقہ | یاالله! مری جھولی بھر دے[1] |

[1]...وسائلِ بخشش، صفحه:121۔

## د دِيني اِجتماعاتو دِيني او دُنيائي فائدې

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ له پۀ دِيني اِجتماعاتو (مثلاً هفته وارو د سُنَّتو نه ډکو اِجتماعاتو کښې، شبِ براءَت، شبِ معراج، شبِ قدر وغيره د لوئي شپو پۀ اِجتماعاتو کښې، اِجتماعي مدني مذاکره وغيره) کښې شرکت کول پکار دي- د دې ډير برکتونه دي- د دِيني اِجتماعاتو هُغه برکتونه کوم چې پۀ حديثونو کښې بيان شوي دي او پۀ اوسني وخت کښې چې کوم سائنسي تحقيقات ***(Scientific Researches)*** پۀ دې باره کښې شوې دي، د هغې خلاصه عرض کووم: واورئ! او خوشحاله شئ!

د حديثونو مبارکو مطابق ❀ د ذِکر مجلس (يعني دِيني اِجتماعاتو) ته راتلونکي فرښتے پۀ خپلو وزرو باندې پټوي ❀ پۀ هغوئي باندې سکينه نازليږي ❀ هغوئي رحمت راګيروي [1] ❀ د هغوئي د پاره د بخښني زيرے دے ❀ د هغوئي ګناهونه پۀ نيکو بدلولے شي [2] ❀ د ذِکر د مجلسونو (يعني دِيني اِجتماعاتو) غنيمت جَنَّت دے [3] ❀ دِيني اِجتماعاتو ته پۀ حديثِ پاک کښې د جَنَّت باغيچې فرمائيلے شوې دي [4] ❀ الله پاک د ذِکر محفل ته پۀ راتلونکو باندې فخر فرمائي [5] ❀ او د فرښتو پۀ مخکښې د هغوئي ذِکر خير فرمائي- [6]

دا هُغه برکتونه دي کوم چې پۀ حديثونو کښې بيان شوي دي، د دې نه علاوه ❀ د دِيني اِجتماعاتو پۀ برکت د الله پاک قرب نصيب کيږي ❀ غفلت لرې کيږي ❀ پۀ نيکئ او پۀ خير باندې د يو بل مدد کول نصيب کيږي ❀ د دِيني اِجتماعاتو پۀ برکت ايمان

---

[1]... مسلم، کتاب الذکر والدعاء، باب فضل الاِجتماع ...الخ، صفحه:1039، حديث:2700۔

[2]... معجمِ کبير، جلد:3، صفحه:546، حديث:5907 ماخوذًا۔

[3]... مسندِ امام احمد، جلد:3، صفحه:573، حديث:6811 مفهومًا۔

[4]... ترمذی، کتاب الدعوات، 85 باب منه، صفحه:804، حديث:3510۔

[5]... مسلم، کتاب الذکر و الدعاء...الخ، باب فضل الاِجتماع ....الخ، صفحه:1040، حديث:2701۔

[6]... مسلم، کتاب الذکر والدعاء، باب فضل الاِجتماع ...الخ، صفحه:1039، حديث:2700۔

مضبوطیږي ❀ د دواړو جهانونو خیرونه نصیب کیږي ❀ د معاشرې اِصلاح کیږي ❀ پهٔ خپل مینځ کښې د مینې، محبت، اتفاق او یو والي دولت نصیب کیږي ❀ د دې پهٔ برکت اخلاق ښه کیږي ❀ کردار ښه کیږي ❀ عقل زیاتیږي ❀ سوشل لائف یعنې پهٔ معاشره کښې د اوسیدو او د ژوند کولو تجربه زیاتیږي ❀ د مختلفو سروے رپورټونو مطابق مذهبي خلق (***Religious People***) (کوم چې د جُمعې پهٔ جَمعه او نورو دِیني اِجتماعاتو کښې شرکت کوي، دوئي) د غیر مذهبي خلقو پهٔ نسبت د نفسیاتي مسئلو (***Psychological Problems***) کم ښکاري کیږي ❀ ډپریشن کوم چې د دې وخت یوه لویه مسئله ده، هائي بلډ پریشر، د ګردو مرضونه (***Kidney Diseases***) او د زړهٔ د دورې وغیره یوه لویه وجه ډپریشن دے، د یو بل سروے رپورټ مطابق مذهبي خلق (کوم چې پهٔ اِجتماعاتو کښې شرکت کوي، دوئي) د ډپریشن نه د ډیر حده پورې محفوظ وي ❀ دا خلق د نورو خلقو د غم درد نه ډیر خبر وي، ځکه پهٔ دوئي کښې د نیکۍ، د خیر، د ښیګړې او د خلقو د خِدمت (***Social Welfare***) وغیره جذبې زیاتې وي ❀ دا وخت پهٔ دُنیا کښې د ټولو نه لویه مسئله خُودکشي (***Suicide***) هم ده، د خودکشۍ واقعې ورځ پهٔ ورځ زیاتیږي، د دې جرم د مخنیوي یوه اهمه ذریعه دِیني اِجتماعات هم دي، پهٔ اصل کښې چې کوم خلق د ژوند نه مایوسه کیږي، چا ته چې دا ښکاري چې پهٔ ژوند کښې هیڅ نهٔ دي پاتې، زما د پاره ټولې دروازې، ټولې لارې بندې شوې دي، هغوئي د خودکشۍ لار اختیاروي، د دیني اِجتماعاتو فائده دا وي چې ❀ د دې پهٔ برکت سوچ پراخه کیږي، ❀ د ژوند نوې نوې لارې مخې ته راځي ❀ د ژوند یو مقصد میلاؤیږي او ❀ د ښه، د کردار والؤ خلقو سره د میلاؤیدو پهٔ برکت د زړهٔ بوج لرې کیږي ❀ د غمونو او پریشانو پهٔ مقابله کولو کښې مرسته کیږي، داسې هٔغه کَس کوم چې د ژوند نه مایوسه شوے وي، د هغهٔ د ژوند تیرولو نوے اُمید، جذبه او شوق نصیب کیږي۔

مُنعَقِد کرتے رہیں گے اِجتماعِ ذِکر و نعت
دُھوم ان کی نعت خوانی کی مچاتے جائیں گے
کرلو نیّت سنّتوں کی تربیت کے واسطے
قافلوں میں ہم سفر کرتے کراتے جائیں گے [(1)]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## دعوتِ اِسلامي او دِيني اِجتماعات

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! غور اوکړئ چې د دِيني اِجتماعاتو څنګه څنګه برکتونه دي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي کوم چې پۀ ټوله دُنيا کښې د نيکئ د دعوت د عام کولو سعادت حاصلوي- پۀ اوسني وخت کښې دِيني اِجتماعاتو ته پۀ وده ورکولو او دا پۀ منظم انداز کښې پۀ چلولو کښې دعوتِ اِسلامي ډير اهم کردار ترسره کوي- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي لاندې پۀ ملک او بهر ملک کښې پۀ زرګونو ځايونو کښې هفته وار د سُنَّتو ډک اِجتماعات کيږي، پۀ کومو کښې چې پۀ لکونو مسلمانان شرکت کوي او برکتونه حاصلوي ❀ پۀ زرګونو ځايونو کښې د اِسلامي خوئيندو هفته وار اِجتماعات هم کيږي- د دې نه علاوه ❀ د جشنِ ولادت پۀ موقع باندې د دولسم شريف اِجتماع ❀ د لوئې يولسم شريف ❀ د معراج د شپې ❀ د شبِ براءَت ❀ شبِ قدر وغيره اِجتماعات هم کيږي، پۀ کومو کښې چې پۀ زرګونو نۀ بلکې پۀ لکونو اِسلامي ورونړه شرکت کوي او برکتونه حاصلوي-

## د هفته وارې اِجتماع جدول او د دې برکتونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د هفته وارې د سُنَّتو نه د ډکې اِجتماع پۀ بنيادي توګه درې

[1]… وسائلِ بخشش، صفحه:419 ملتقطًا۔

نشستونه دي، وړومبے نشست د ماښام نه د ماسخوتن (د دې وخت 2 ګينټې)، دويم نشست د ماسخوتن د نـمونځ نه پس د ارام دمه او دريم نشست د تهجدو د نـمونځ نه د اشراق او ځاخت نه پس د صلوٰة او سلام پورې وي-

پۀ هفته واره اِجتماع کښې د سر نه د اخره (يعنې پۀ دې دريو واړو نشستونو کښې) د شرکت کولو پۀ برکت سره مونږ د کومو کومو فضيلتونو حقدار جوړيدے شو؟ واورئ!

## (1): پۀ هفته واره اِجتماع کښې د نـمونځونو فيضان

د هفته وارې اِجتماع د ټولو نه وړومبے او ډير اهم برکت خو دا دے چې د دې پۀ ذريعه زمونږ د جَمعې سره د نـمونځ کولو سعادت نصيب کيږي ❀ د ماښام د نـمونځ ❀ د ماسخوتن د نـمونځ ❀ د سحر د نـمونځ، بيا نفل نـمونځونه لکه ❀ اوابين ❀ صلوٰة التوبه ❀ د تهجدو د نـمونځ ❀ د اشراق او د ځاښت د نـمونځونو، که چرې مونږ پۀ هفته واره اِجتماع کښې د سر نه د اخره پورې شرکت اوکړو نو د دې پۀ برکت به د دې ټولو نـمونځونو د کولو سعادت نصيب کيږي- اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم!

د دې نـمونځونو فضيلت څۀ دے؟ برکتونه څۀ دي؟ واورئ! پۀ حديثِ پاک کښې دي:

❀ څوک چې د سحر نـمونځ د جَمعې سره اوکړي، بيا کښيني او د الله ذِکر کوي د دې پورې چې نمر راوختو د هغۀ د پاره به پۀ جَنَّتُ الفردوس کښې 70 درجې وي، د هرو دوو درجو ترمينځه به دومره فاصله وي څومره چې يو تربيت يافته تيز رفتاره د ښه نسل آس پۀ 70 کاله کښې کوي ❀ چا چې د ماښام نـمونځ د جَمعې سره اوکړو د هغۀ د پاره به د حجِ مبرور (يعنې د قبول شوي حج) او د قبول شوې عمرې ثواب وي او ❀ چا چې د ماسخوتن نـمونځ د جَمعې سره اوکړو د هغۀ د پاره به پۀ ليلةُ القدر کښې د قيام (يعنې د عبادت) کولو همره ثواب وي-[(1)] ❀ دغه شان د اوابينو د نـمونځ پۀ باره کښې پۀ **حديثِ پاک** کښې دي:

---

[1] … شعب الایمان، باب فی الصبر...الخ، جلد:7، صفحه:137، حديث:9761-

خوک چې د ماښام (د درې فرضو) نه پس 6 رکعتونه اوکړي او د هغې په مینځ کښې څهٔ بده خبره اونکړي نو دا به د 12 کالو د عبادت برابر وي- [1] ❁ د هفته وارې اِجتماع پهٔ برکت سره د صلوٰة التوبه د ادا کولو توفیق هم نصیب کیږي ❁ د تهجدو د کولو سعادت هم نصیب کیږي- پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: د شپې ضرور قیام کوئ (یعنې نـمونځ کوئ) چې دا ستاسو نه د مخکښینو نیکانو خلقو طریقه، د رَبّ د قرب موندلو، د تیرو ګناهونو د ورانولو او د راتلونکو ګناهونو نه د بچ کیدو ذریعه ده- [2] ❁ دغه شان د اشراق د نفلونو پهٔ باره پهٔ حدیثونو کښې دي چې د دې پهٔ برکت د اِنسان ګناهونه بخښلے کیږي، اګر که د سمندر د ځګ همره وي- [3]

## هفته واره اِجتماع او د قرآنِ کریم تِلاوت

پهٔ هفته واره اِجتماع کښې **سُورهٔ مُلک** لوستلے شي- صحابئ رسول حضرت عبد الله بن مَسعُود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ فرمائي: کله چې اِنسان قبر ته لاړ شي او د عذاب فرښتے د هغهٔ د ښپو د طرف نه راشي نو د هغهٔ ښپې به وائي: ستا د پاره د دلته نه هیڅ لار نشته، ځکه چې دهٔ به (پهٔ شپه کښې) **سُورهٔ مُلک** لوستلو- بیا به فرښتے د هغهٔ خیټې د اړخ نه راشي نو هغه به وائي: ستا د پاره زما د طرف نه هم هیڅ لار نشته ځکه چې دهٔ پهٔ ما کښې دننه **سُورهٔ مُلک** یاد ساتلے وو، بیا به هغه د هغهٔ د سر د اړخ نه راشي نو سر به وائي: ستا د پاره زما د طرف نه هم هیڅ لار نشته، ځکه چې دهٔ به (پهٔ شپه کښې) **سُورهٔ مُلک** هم زما نه لوستلو- [4]

---

[1] ... ابنِ ماجه، کتاب اقامة الصلاة و السنة فيها، باب ما جاء فی الست ...الخ، صفحه: 189، حدیث: 1167-

[2] ... ترمذی، کتاب الدعوات، باب فی دعاء النبی، صفحه: 812، حدیث: 3549-

[3] ... ابو داؤد، کتاب الصلاة، التطوع، باب صلاة الضحی، صفحه: 211، حدیث: 1287-

[4] ... مصنف عبدالرزاق، کتاب فضائل القرآن، باب تعلیم القرآن و فضله، جلد: 3، صفحه: 232، حدیث: 6045-

## هفته واره اِجتماع او د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نعت

د دې نه پس نعت شريف وئيلے کيږي او سُبْحٰنَ الله! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نعت هم خومره ښکلے شان دے--!! ❀ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صفتونو او د فضيلتونو ذِکر کول د **الله** پاک سُنَّت دي ❀ د نبيانو، رسولانو او د فرښتو هم سُنَّت دي ❀ د دې پهٔ برکت سره ايمان تازه کيږي ❀ پهٔ زړهٔ کښې عشقِ رسول زياتيږي او ❀ د دِين او د دُنيا بے شميره خيرونه نصيب کيږي-

خُدا کا ذِکر کرے، ذِکرِ مصطفٰے نہ کرے | ہمارے مُنہ میں ہو ایسی زباں خُدا نہ کرے

## د سُنَّتو ډک بيان

د دې نه پس د سُنَّتو نه ډک بيان کيږي- د دې پهٔ ذريعه د عِلمِ دِين د زده کولو موقع ميلاؤيږي- پهٔ **حديثِ پاک** کښې دي: کوم اِنسان چې د علم پهٔ تکل کښې پيزار، موزې يا جامې اغوندي نو د خپل کور د چوکاټ نه پهٔ وتو **الله** پاک د هغهٔ ګناهونه معاف کوي-[1]

## هفته واره اِجتماع او درودِ پاک

اَلْحَمْدُلِلّٰه! پهٔ هفته واره اِجتماع کښې 6 درودِ پاک او دعاګانې هم لوستلے شي ❀ پهٔ دې کښې يو د جُمعې د شپې درودِ پاک هم دے، د دې د لوستونکي د پاره د مرګ پهٔ وخت د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ديدار نصيب کيدو فضيلت دے ❀ دغه شان د ګناهونو بخښلو والا درود شريف لوستلے کيږي، يعنې د دې درودِ پاک پهٔ لوستلو د ګناهونو د بخښلے کيدو فضيلت دے ❀ يو داسې درود شريف هم لوستلے کيږي د کوم پهٔ لوستلو چې د رحمت 70 دروازې پرانستے کيږي ❀ د خوږ آقا و مولا،

[1] … معجمِ اوسط، جلد:4، صفحه:204، حديث:5722۔

مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم قرب وركوونكے درود شريف هم لوستلے كيږي ❁ د كوم درودِ پاک لوستلو پهٔ بركت چې د 6 لاكهه درود شريف لوستلو ثواب ميلاوېږي هغه هُم لوستلے كيږي ❁ د شفاعت درود شريف هم لوستلے كيږي، د كوم د لوستونكي د پاره چې د شفاعت واجب كيدو زيرے وركړے شوے دے ❁ دغه شان پهٔ حديثِ پاک كښې بيان كړے شوې دوه دعاګانې هم پهٔ هفته واره اِجتماع كښې لوستلے كيږي ❁ يوه دُعا داسې ده، كله چې اِنسان هٰغه دُعا ولولي نو د حديثِ پاک مطابق 70 زره فرښتے د زر [1000] ورځو پورې د هغهٔ د پاره نيكئ ليكي او ❁ د شبِ قدر دُعا هم لوستلے كيږي، يعني د هٰغه دُعا پهٔ باره كښې پهٔ حديثِ پاک كښې فرمائيلے شوي دي: كوم اِنسان چې دا دُعا 3 كرته ولولي، هغه چې ګويا شبِ قدر حاصل كړو۔

## ذِكرُ الله

د هفته وارې د سُنَّتو نه ډكې اِجتماع يوه خصوصي سلسله **ذِكرُ الله** هم ده۔ او پهٔ **حديثِ پاک** كښې دي: كوم قوم چې د **الله** پاک د ذِكر كولو د پاره كښيني نو فرښتے هغوئي د خلورو واړو اړخونو نه راګير كړي او د خُدائے رحمت هغوئي پټ كړي او پهٔ هٰغه خلقو باندې سكينه (د زړهٔ اطمينان) نازليږي او **الله** پاک پهٔ خپلو مقربينو كښې د هغې ذِكر فرمائي۔ (1)

## دُعا

پهٔ هفته واره د سُنَّتو نه پهٔ ډكه اِجتماع كښې ژړيدونكي دُعا هم وي د كومې پهٔ بركت باندې چې پته نهٔ لګي چې څومره خلق خپلې خالي جولۍ د مرادونو نه ډكوي۔ پهٔ **حديثِ پاک** كښې دُعا ته د عبادت مغز وئيلے شوے دے۔ (2) او اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: پهٔ

[1]… مسلم، كتاب الذكر والدعاء، باب فضل الاِجتماع …الخ، صفحه:1039، حديث:2700۔

[2]… ترمذی، كتاب الدعوات، باب ما جاء فی فضل الدعاء، صفحه:777، حديث:3371۔

ډله کښې برکت دے او د مسلمانانو په اِجتماع کښې دُعا کول قبليدو ته ډير نزدې دي- [1]
سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې هفته واره اِجتماع د دعاګانو د قبليدو يوه ذريعه ده-

## د سترګو نه يې اوښکې رواني شوې---!!

په اِجتماع کښې د کيدونکې ژړيدونکې دُعا يو خاصيت دا هم دے چې د دې په برکت د بے شميره سختو زړونو انسانانو زړونه نرميږي او د الله پاک د ويرې د دولت په نصيب کيدو د هدايت لار ته راځي- د کراچۍ د يو اِسلامي ورور بيان دے چې د دعوتِ اِسلامي دِيني ماحول ته راتلو نه مخکښې زما ژوند په ګناهونو کښې تيريدلو، بيا زما سره يو اِسلامي ورور ميلاؤ شو، کوم چې پرله پسې د نيکۍ په دعوت راکولو راکولو اخر يوه ورځ زۀ هفته وارې اِجتماع ته بوتلم- ما په اِجتماع کښې شرکت اوکړو، بيان مې هم واوريدو، بيا يو وخت لائټونه بند کړے شو، ما وګڼل چې اِجتماع ختمه شوه خو په اصل کښې دا د روحانيت وخت وو، بيا ذِکرُ الله شروع شو، د ذکرُ الله په اوازونو باندې زما زړۀ ولړزيدو، ما په دُنيا کښې چرې هم داسې روحانيت نۀ وو ليدلے، نۀ مې اوريدلے وو، بيا چې کله ژړيدونکې دُعا شروع شوه نو په اِجتماع کښې د شرکت کوونکو د سلګو اوازونه راتلل شروع شول، داسې دعا وه چې زما په شان د سخت زړۀ هم د شرم او پښمانتيا په وجه په ژړا شو، زما اوښکې بهيدلې او ما په پښمانتيا سره د خپلو ګناهونو نه توبه کوله- [2]

| | |
|---|---|
| تمھیں لُطف آ جائے گا زِندَگی کا | قریب آ کے دیکھو ذرا دینی ماحول |
| تَنَزُّل کے گہرے گڑھے میں تھے اُن کی | ترقّی کا باعث بنا دینی ماحول |
| یقیناً مقدّر کا وہ ہے سکندر | جسے خیر سے مل گیا دینی ماحول [3] |

[1]... فتاویٰ رضویه، جلد:24، صفحه:184 بتغير قليل-
[2]... جنت کا راسته، صفحه:41 خلاصةً-
[3]... وسائلِ بخشش، صفحه:646، 647 ملتقطًا-

# د شپې اِعتکاف او د تهجدو د نــمونځ سعادت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د هفته وارې د سُنَّتو ډکې اِجتماع په جدول کښې د شاملو يو څو خيزونو بيان مونږ واوريدو، د دې نه علاوه ❀ په هفته واره اِجتماع کښې د جُمعې د شپې 6 درودِ پاک او دعاګانې لوستلے کيږي ❀ د زده کولو او ښودلو حلقې هم لګولے کيږي په کومو کښې چې سُنَّت او آداب او د مختلفو فرض علومو معلومات ورکړے کيږي ❀ د امروزه مختلفې دعاګانې هم يادولے کيږي ❀ بيا د هغې نه پس د نفلي اعتکاف په نيت سره د ټولې شپې په جومات کښې د تيرولو بندوبست هم وي ❀ د تهجدو نــمونځ د جَمعې سره ادا کولے شي ❀ اوراد او وظيفې، لوستلے، ښودلے کيږي ❀ د هفته وارې د سُنَّتو ډکې اِجتماع ختميدل د اشراق او څاښت د نــمونځ نه پس په صلوٰة او سلام باندې کيږي-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! غور اوکړئ چې په هفته واره د سُنَّتو نه په ډکه اِجتماع کښې شرکت کول صرف يوه نيکي نهٔ ده بلکې د ډيرو نيکو يوه ښکلې ګلدسته ده او بيا دا نيکۍ هم په يوه عامه ورځ نهٔ بلکې د جُمعې په ورځ کولے شي- آؤ جي! په اِسلامي لحاظ سره د ماښام نه پس نوې ورځ شروع کيږي او د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو نه ډکه اِجتماع هم د زيارت په ورځ د ماښام د نــمونځ نه پس شروع کيږي يعنې د **جُمعې په شپه کيږي او د جُمعې د ورځې د يوې نيکۍ ثواب 70 چنده وي-**[1]

دا د هفته وارې د سُنَّتو نه د ډکې اِجتماع د برکتونو څهٔ لړه شان نظاره تاسو ته وړاندې کړے شوه- که غور اوکړئ نو د دې نه علاوه هم بے شميره فضيلتونه او برکتونه د دې اِجتماع په ذريعه مونږ ته حاصليږي- څکه هم د نن نه خپل صحت او ژوند غنيمت وګڼئ او د اخرت د تيارۍ د پاره په هفته واره د سُنَّتو نه په ډکه اِجتماع کښې خپل شرکت

---

[1]... مرآة المناجيح، جلد:2، صفحه:323-

يقيني کړئ! او نورو ته هم د دې دعوت ورکړئ او د ځان سره يې د راوستو کوشش کوئ! ځکه چې ښهٔ مسلمان هغه دے کوم چې څهٔ د ځان د پاره خوښوي، هغه د نورو د پاره هم خوښ کړي۔

مونږ بخپله نيکۍ کوو، پهٔ دِيني اِجتماعاتو کښې شرکت کوو، پهٔ هفته واره د سُنَّتو نه پهٔ ډکه اِجتماع کښې شرکت کوو نو د نورو د پاره هم دا خوښ کړئ، ځکه ❀ نورو له هم دعوت ورکړئ ❀ پهٔ فون باندې ❀ د ميسج پهٔ ذريعه ❀ پهٔ واټس ايپ باندې ❀ د دوستانو سره پهٔ ملاقات کولو ❀ پهٔ علاقائي دوره کښې پهٔ شرکت کولو چې مونږ نورو له هم ترغيب ورکړو، پهٔ هفته واره د سُنَّتو نه پهٔ ډکه اِجتماع کښې د شرکت کولو فائدې ورته بيان کړو، ذِهن يې جوړ کړو او د ځان سره يې د راوستو کوشش اوکړو۔ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ثواب به مو کيږي۔ **الله** پاک دې مونږ ته د دعوتِ اِسلامي پهٔ هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتماع کښې د وخت د پابندۍ سره د شرکت کولو او هم د اِجتماع پهٔ ځائے کښې د ټولې شپې تيرولو سعادت راعطا کړي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ۔

ترا شکر مولا دِیا دینی ماحول | نہ چھوٹے کبھی بھی خُدا دِینی ماحول
گنہگارو آؤ! سیہ کارو آؤ! | گناہوں کو دیگا چھڑا دِینی ماحول
پِلا کے مئے عشق دیگا بنا یہ | تمہیں عاشقِ مصطفےٰ دِینی ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اميرِ اهلِسُنَّت دُعا

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د اپريل کال 2026 مياشت دعوتِ اِسلامي **د هفته وارې اِجتماع د مياشت** پهٔ توګه نمانځي۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! هفته واره اِجتماع خو ټول کال روانه وي، دا يوه مياشت د دې دِيني کار د مضبوطولو، د دې طرف ته د ډير پام کولو، پهٔ دې باندې د

اِستقامت موندلو او پهٔ نوو نوو اِسلامي ورونړو پهٔ دې کښې د شرکت کولو د پاره خاص کړے شوي ده- څکه تاسو ټخپله هم پهٔ دې دِيني کار کښې پوره شرکت اوکړئ او د نورو هم د ځان سره د راوستو پوره پوره او پهٔ صحيح معنو کښې کوشش اوکړئ!

شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ --!! اَلْحَمْدُلِلّٰه! دُنيا پيژني او مني چې هغوئي د الله پاک نيک بنده دے او واقعي چې دے، هغوئي دُعا کړې ده چې: يا الله پاکه! څوک چې د کال 2026 اپريل مياشت د ماهِ اِجتماع پهٔ توګه ونمانځي، که هغه ټخپله راشي، نور د ځان سره راولي، څوک چې ګاډي راډک کړي، څوک چې د قافلې جوړولو سره، څوک چې پهٔ دې کښې هر قِسمه حصه هم واخلي، يا الله پاکه! د دې نه مخکښې هغهٔ له مرګ مهٔ راولې د څو پورې چې ستا د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جلوه وه نهٔ ويني-

سُبْحٰنَ الله! د الله پاک د نيک بنده دُعا ده، څهٔ پته لګي که زمونږ پهٔ حق کښې قبوله شي، څهٔ پته لګي که د دې نيک کار پهٔ برکت زمونږه ورانه ودانه شي، اودهٔ بخت مو راٻيدار شي او زمونږ د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شي-

جَلوۂ یار اِدھر بھی کوئی پھیرا تیرا | حسرتیں آٹھ پہر تکتی ہیں رستہ تیرا

يو شاعِر وئيلي دي:

دِیدار کے قابِل تو نہیں چشمِ تمنّا
لیکن وہ کبھی خواب میں آئیں تو عجب کیا

الله پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي چې مونږ ټخپله هم د اِستقامت سره، د وخت د پابندیَ سره، نورو له دعوت ورکړو او د ځان سره يې راولو او پهٔ هفته واره اِجتماع کښې شرکت اوکړو- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ـ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اِسلامي د یوې شعبې تعارف: دارُ الـمدینه انټرنیشنل اِسلامک سکول سسټم

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دعوتِ اِسلامي د دِیني علومو سره سره د دُنیائي عِلم په ذریعه هم د معاشرې د خیر ښیګړې کارونه کوي، د عاشقانِ رسول د دِیني تنظیم دعوتِ اِسلامي د انتظام لاندې یوه اهمه تعلیمي شعبه: **دارُ الـمدینه انټرنیشنل اِسلامک سکول سسټم** جوړه کړے شوې ده- د کومې مقصد چې د دِیني قدرونو سره سره په جدید تقاضو پوره معیاري تعلیم ورکول دي-

د **اللّٰه** پاک په فضل او کرم سره دارالـمدینه اسلامک اسکول سسټم په لږ وخت کښې ښکاره ترقي کړې ده. تر اوسه پورې په ملک او بهر ملکو کښې **د 173 نه زیات** کیمپسونه په کامیابۍ سره قائم کړے شوي دي، چرته چې **د 43 زرو نه زیات طلباء او طالبات** زیرِ تعلیم دي او د یو منظم، باوقاره او هر اړخیزه تعلیمي ماحول نه مستفید کیږي.

د **اللّٰه** پاک په فضل او کرم سره په کراچۍ، راولپنډۍ او فیصل آباد کښې **پینځه بوائز او ګرلز کالجونه** (په بیلو بیلو کیمپسونو کښې) په کامیابۍ سره تعلیمي خدمات تر سره کوي. د تعلیمي ترقۍ د دې سفر مخکښې بوتلو د پاره په کال **2024ء** کښې په اسلام آباد کښې د **دارالـمدینه انټرنیشنل یونیورسټۍ** باقاعده قیام په عمل کښې راوستلے شو، کوم چې د اعلیٰ تعلیم په میدان کښې د یو مهم لار ښودونکي حیثیت لري. **اللّٰه** پاک دې د دعوتِ اسلامي دې تعلیمي مشن ته ترقي عطا فرمائي او د دې نه دې مونږ ته د پوره پوره فائدې اخستلو توفیق راعطا کړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

## اسلامک سپیچز (Islamic Speeches) موبائل ایپلي کیشن

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تنظیم دعوتِ اسلامي د اسمارټ فون (***Smartphone***) په ذریعه هم علمِ دین عام کولو کوشش کوي. په دې باره کښې د دعوتِ اسلامي د **I.T** ډیپارټمنټ له طرفه مختلف موبائل ایپلي کیشنز جاري کړے شوي دي، د کومو نه چې یو موبائل ایپلي کیشن اسلامک سپیچز (***Islamic Speeches***) هم دے. د دې په ذریعه تاسو د دعوتِ اسلامي ❁ هفته وار ❁ د جُمعې ❁ او د مختلفو موقعو نوي او زاړۀ بیانات په آسانئ سره حاصلولے شئ ❁ دا بیانات نه یواځې په اردو ژبه کښې بلکې په انګلش، سندهي، پښتو او بنګالي ژبو کښې هم موجود دي ❁ تاسو دا بیانات نه صرف لوستلے شئ بلکې په دې ایپلي کیشن کښې مخصوص بیانات په آډیو کښې اوریدلے هم شئ ❁ د بیاناتو د تلاش کولو سهولت هم موجود دے، د کوم نه چې تاسو په آسانه خپل مطلوبه بیان لټولے شئ ❁ تاسو خپل خوښ کړي بیانات فیوریټ (***Favorite***) کړي محفوظ کولے هم شئ. هُم نن دا ایپلي کیشن په خپل موبائل کښې ډاون لوډ کړئ او نورو ته هم د دې ترغیب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## یو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پۀ ورځ **امیرِ اهلِسُنَّت** دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ **مَدَني چینل لائیو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې هفتې پۀ ورځ به هم د ماسخوتن د نمونځ نه پس اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم! هفته واره مَدَني مذاکره کیږي، پۀ کومه کښې چې به شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړي او

نورو له دې هم دعوت ورکړي ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې ديني رسالې لوستلو ترغيب ورکوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **پهٔ اِحتياط سره خبرې اترې کوئ** اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د **الله** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر کړي!

❁ خوشخبري! مکتبةُ الْمدينه يو اهم نوے کتاب "**مکتوباتِ اميرِ اهلِ سنت**" شائع کړے دے- په دې کتاب کښې د اميرِ اهلِ سنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هٰغه بابرکت خطونه او تحريرات شامل دي کوم چې هغوئي په مختلفو موقعو تحرير کړي دي- دا کتاب د مکتبةُ الْمدينه د يوې څانګې نه په **1 زر روپو** قيمت سره طلب کړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان پهٔ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: **مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ كَانَ مَعِیْ فِی الْجَنَّةِ** چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به پهٔ جَنَّت کښې زما سره وي-[(1)]

| | |
|---|---|
| سينہ تيری سُنّت کا مدينہ بنے آقا! | جَنَّت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا |

## د نوم کيښودو سُنَّت او آداب

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے**: د قيامت پهٔ ورځ به تاسو پهٔ

---

[1] ... تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-

خپلو او ستاسو د پلارانو په نومونو رابللے شي ځکه خپل ښه نومونه کيږدئ-[1]

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** مفتي امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ماشوم له ښه نوم کيښودل پکار دي د ډيرو خلقو داسې نومونه دي د کومو چې څۀ معنې نشته يا د هغې بدې معنې دي د داسې نومونو کيښودو نه ډډه اوکړئ ❀ د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام او د صحابۀ کرامو او تابعينو رَضِىَ اللهُ عَنْهُم په نومونو باندې نومونه کيښودل بهتره خبره ده، اميد دے چې د هغوئي برکت به په ماشوم کښې کيښودے شي ❀ که ماشوم ژوندے پيدا شي او که مړ، د هغۀ بدن که پوره وي او که نۀ، بهر حال د هغۀ نوم کيښودل پکار دي ❀ **په حديثِ پاک کښې دي:** د کچه ماشوم (يعنې د کوم ماشوم چې کوم اندام جوړ شي يا په خيټه کښې د څلورو مياشتو شي د هغۀ) نوم کيږدئ چې **الله** پاک به د دۀ په ذريعه باندې ستاسو د عمل تَله درَنه کړي ❀ جبريل يا ميکائيل وغيره نوم مۀ ږدئ ❀ يٰسين يا طٰهٰ نوم کيښودل منع دي ❀ محمد ياسين نوم هم مۀ ږدئ، آؤ که غواړئ نو غُلام ياسين او غلام طٰهٰ نوم کيږدئ ❀ کوم نومونه چې غلط وي هغه بدلول پکار دي او ښه نوم کيښودل پکار دي ځکه چې د خپل اُمَّت سره محبت کوونکي خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به غلط نومونه په ښو نومونو باندې بدلول- د يوې زنانه نوم عاصِيَه (د عين او صاد سره يعنې ګنهګاره) وو، رسولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغې نوم بدل کړو او جميله يې کيښودلو- (**نوټ:** يو نوم آسيه د الف مده او سين سره هم کيښودلے شي، دا ښه نوم دے، په کيښودو کښې يې هيڅ باک نشته) ❀ داسې نومونه کيښودل جائز نۀ دي کوم چې د غير مسلمو د پاره خاص وي ❀ غُلامِ رسول، غُلامِ صديق، غُلامِ حُسَين، غُلامِ غوث، غُلامِ رضا نوم کيښودل جائز دي-[2]

---

[1]… ابو داؤد، کتاب الادب، باب: في تغيير الاسما، صفحه: 775، حديث: 4948-

[2]… 550 سنتيں اور آداب، صفحه: 6863 ملتقطاً-

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئي لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

رَبّ کے در پر جھکیں التجائیں کریں | بابِ رحمت کُھلیں قافلے میں چلو
عاشقانِ رسول ان سے رحمت کے پھول | آؤ لینے چلیں قافلے میں چلو

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمَ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعي [يعني د جُمعي د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعي او زيارت پهٔ مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پهٔ پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ پهٔ وخت

کنبې د مدینے د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبر کنبې د داخلیدو وخت کنبې هُم، تر دې چې د مدینے سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبر کنبې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږ هم پۀ شریکه دا دُرُود ووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے چې مدینے تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كنبیناستلو نه مخکنبې او كه ناست وي نو د ودریدلو نه مخکنبې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي.[2] راځئ چې مونږ هم پۀ شریکه دا دُرُود ووائیو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازې:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي پۀ هغه به د رَحمت اویا دروازې بیرته کړے شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم پۀ شریکه ووائیو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰہِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: د دې دُرُود شریف یو ځل

---

[1]... اَفْضَلُ الصَّلاۃ، صفحه: 151، خلاصةً۔

[2]... اَفْضَلُ الصَّلاۃ، صفحه: 65۔

[3]... قَوْلُ البَدِیْع، باب ثانی، صفحه: 277۔

لوستلو باندې د شپږو (6) لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[1] راځئ چې په شریکه یې ووائیو.

## ﴿5﴾ د خوږ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم قُرب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرضٰی لَهٗ

یوه ورځ یو کَس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم حیران شو چې دا ځوك ذِی مَرتبه [یعنې اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې یې لوَلي.[2] راځئ چې مونږ یې هُم په شریکه ووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف ولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه ووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر [1000] ورځو نیکۍ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه رِوایت دے چې مدینے سرکار صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

1... اَفْضَلُ الصلاۃ، صفحه:149۔

2... قَوْلُ البَدِیْع، بابِ اَوَّل، صفحه:125۔

3... الترغیب والترهیب، کِتَابُ الذِّکْر والدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حدیث:30۔

فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے د يو زر [1000] ورځو پورې نيکئ ليکي.[1] راځئ چې مونږ يــې هُم پهٔ شريکه ووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر يــې چې حاصل کړو

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې دا دُعا درې ځله ولوستله نو لکه هغه چې شبِ قدر حاصل کړو-[2] راځئ چې مونږ هُم دا دُعا پهٔ شريکه ووائيو-

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د حِلم او کرم کوونکي الله پاک نه علاوه هيڅوک د عبادت لائق نشته، الله پاک دے، د اووهٔ اسمانونو او د عظمت والا عرش رَبّ)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... مَجْمَعُ الزَّوائِد، كِتَابُ الْاَدْعِيَه، جلد:10، صفحه:254، حديث:17305۔

2...تاريخ ابنِ عساكر، 155/19، حديث:4415